## پښتو متلونه يا د اولنو خبري

الف:

ـ ابا اوبو يو وړ ، ويل ابا څه کوې چه غاړي غرونه ئې يو وړه.
ـ ابا مه ګورى ، خورجين ئې ګورى.
ـ اټنه وران سي چه امرالدين دي ناري کوي.
ـ اختر پټ مېړه نه دى.
ـ آخير عمر د خوارى دى.
ـ ادب له بي ادبه زده کيږي.
ـ ادب له زخمه اخيستل کيږي.
ـ آدم خان دي په خيال ګوروان درغلى دى.
ـ ارزانه بې علته نه وي ګران بې حکمته.
ـ ارمان چي وروستى عقل لومړى واى.
ـ آره آره يوم پر غاړه.
ـ اړه په اړه خلاصيږي.
ـ ازمويلى څوک نه ازمويى.
ـ ازميښت اول په کال وتلين و ، اوس دم په دمه دى ) . تلين دسالګرى په معنى دى(
ـ آسان ئې نالول چونګوښو هم پښې پورته کړې.
ـ آسمان ليري ، ځمکه سخته.
ـ آسمان چي تيتيږي ، دومره نه اوريږي .
ـ آسمان چي وريځي ښيوي باران به وکي ، کونډه چي سترګي توروي ميړه به وکي.
Ketabton.com
ـ آس ششنى ، خر رايي ، عاتره نوري بلاوي وايي.
ـ آس که ټکنى دى ميدان لنډ دى.
ـ آس ئې و هغو ته ورکړ چي د تانک د ټرلونه وه .
ـ آس ئې په سوو ګټي ، مړونه ئې په خولو ګټي.
ـ آس دبله ، غمچينه د ځنګله چي دى ئې تيز نه کړي نو بې څوک تيزوي.
ـ اشه ښه ده که ګله ؟ مه يوه ويني مه بله.
ـ اشه اشه بابا اشه ، قاضي غلام غوندي مريى لرې.
ـ اصيل په ګدله کي ، کم اصل په ګزبره کي.

ketabton.com - The Digital Library

ـ اصیل ته اشارت ، کم اصل ته لغت.
ـ اصیل خطا نه لري ، کم اصل وفا نه لري.
ـ اصیل خوري نه خاوري کیږي.
ـ اصیل کوتړور ، کم اصل ځېړور .
ـ اصیل په جنډه کالو کي هم معلومیږي.
ـ اصیله ځان دي کچه کی ، چي پرتوګ دي الچه کی.
ـ اصیل نه ورکیږي.
ـ اصیل بې بها وي ، کم اصل بې بها وي.
ـ آغا کور نسته د بي بي څخه بېره نسته.
ـ الم نشرح هغه الم نشرح ده ، خوله د ملا عثمان غواړي.
ـ اګر و اګر سره ورته دي.
ـ امانت مځکه نه خیانتو ي.
ـ آموخته خور بلا خور.
ـ آموخته خور ښه دی که میراث خور ؟ ویل اموخته خور.
ـ امیر ئې ورکوي ، شېخ میر ئې نه ورکوي.
ـ انا مړه سول ـ تبه ئې وشلېده.
ـ انسان تابع د احسان دي .
ـ انسان تر کاڼي سخت تر ګل نازک دی.
ـ انسان نه دی ، هغه چي د حیوان څخه ګیله کوي.
ـ اوبو اخیستی زګ ته لاس اچوي.
ـ اوبه په ډانګ نه بېلیږي.
ـ اوبه چي تر سر تېري سي څه یو نیزه څه دوې.
ـ اوبه چي تر غاړ ي ورسیږي ، زوی تر پښو لاندي کیږي.
ـ اوبه په کمزوري ورخ ماتیږي.
ـ اوبه د سر دپاله خړیږي.
ـ اورته خپل او پردی یو دی .
ـ اوربشي څه په ځمکه کي څه په جوال کي ؟.
ـ اوربشي که سل منه دروېی شي ، دخره پکښي یو لپه ده.
ـ اور له خپلي لمني بلیږي.
ـ اور او اوبه نه سره یوځای کیږي.
ـ اور او پنبه نه سره یو ځای کیږي .

ketabton.com - The Digital Library

ـ اوړه په اوړه ، منت ئې پر څه ؟ .
ـ اوړه يو موټ نه لري ، تنور ئې پر بام جوړ کړی.
ـ اوړه ئې د ميچني ، ژامن ئې د چخني.
ـ اوړه ئې يوـت نشته شل ئې تنورنه دي .
ـ اوسپنه په اوسپنه ماتيږي ږ
ـ اوس دي ويښی کړې چي د ماشو پر وړ دي وخوړ.
ـ اوښان سره کارېدله ګېډۍ ره هم ځغاسته چي بې پرسي ده.
ـ اوښان نه ژاړي بارونه ژاړي.
ـ اوښ په غلبېل نه درېږي.
٦٧ـ اوښ په خپلو متيازو کي ګوډېږي.
ـ اوښ په سر باری نه درنيږي.
ـ اوښ تر پله لاندي نه سي پوتېدلای.
ـ اوښ ته ئې ويل الغبندي وکه ، ده ويل په کمو لاسو.
ـ اوښه ، هر څه دي بې هوښه .
ـ اوښ ته ئې ويل! لوړ دي خوښ دي که ځوړ ؟ ده ويل دريم ئې هم بد دی چي ختې دي.
ـ اوښ ته ئې ويل لوبي وکه ، ده جړونګان له بېخه وکښه.
ـ اوښ ته ئې ويل دا مغزی دي ولي کوږ دی ؟ ده ويل کم ځای مي سم دی.
ـ اوښ دي اوسار کئ نو دي پلار کئ ـ اوښ چي ئې نته کی نو ئې اور ته کی
.
ـ اوښ چي لوي بار وړي خوارک ئې ځوز دی.
ـ اوګره په تلوار نه سړيږي.
ـ اوګره ځيني توې سوله ، ويل په نصيب مي نه وه.
ـ اول اتام پسې کلام.
ـ اول ځان پسې جهان.
ـ اول حق د ګاونډي دی.
ـ اول زده کړه ، بيا کوزده کړه.
ـ اول سلام پسې کلام.
ـ اول کوه احتياط ، اوستری مه کوه پسات.
ـ اول مړانه په سيالي وه ، اوس سپيتانه په سيالي ده.
ـ اول مي نه خوړی هزارسلاخي ، اوس دخوارپلاومحتاج يم . (هزارسلاخي

ketabton.com - The Digital Library

يو ډول ډوډۍ ده چي وېشلې هم بولي(
ـ ايلچي ته نه بند شته نه زندان

ـ اوښ پۀ بډه نه وهل کيږي .
ـ اختر څۀ پټ مېږۀ نه دی چې تېر به شي .
ـ اول ځان پسې جهان .
ـ اوبۀ پۀ ډانگ نه بېلېږي.
ـ ازمويلی بيا مه ازمويه .
ـ اوښ ليدلی ، نه ليولی .
ـ انسان له ختا سره ملگری دی .
ـ اور ته خپل او پردی يو دی.
ـ اول زده کړه ،بيا کوزده کړه
ـ اوبۀ هم د لوښي پر مخ څښلې کيږي .
ـ اور ته راغلی د کور څښتن شو.

ب:
ـ بابا حلاله ، پوخۍ مه حلاله.
ـ بابا دي خدای وبخښي مگر د سهار په لمانځه کي سُست و.
ـ بابا گيلې کوي ، ادې پېرې کوي.
ـ پاچهان چي د اوگرې پېروی خوري وس ئې رسيږي.
ـ پاچهي پاچهانو لره ښايي ، لويي خدای ( ج) لره.
ـ باران پر تېر اوسو ، خره ئې د لړموړي يو وړه.
ـ بارونه ئې تړل ، اوښانو ژړل.
ـ بار ئې په شا نه شو وړای ، يو لرگی ئې بل پر کښيبود.
ـ باغ که باغوان لري ، چغال هم خدای لري.
ـ باغ که خراپوې ، الو پکښي ږده.
ـ باغ چي پوخ سي باغوان کوږ سي.
ـ بام ئې لوړ ، کور بې ډگر.
ـ بخت چي کوته سي پاچهان ټکري خوري.
ـ بخت په ټنده دی نه په منډه.

ketabton.com - The Digital Library

- بد بانجن افت نه لري.
- بد په بلا اخته ښه دی.
- بد په سلام نه ورکيږي.
- بد تربور په بد ځای کي په کاريږي.
- بد مه راسره کوه ښه دي نه غواړمه.
- بد مه کوه بد به نه ويني!
- بده ماندينه تنګه موچنه ده.
- بدی چي نه کړای بدي چاري ، بدی به چا واژه پر لاري.
- برج دي تر اسمانه ، سپي دي له لوړي مري.
- برخي ټولي ازلي دي نه په زور نه په سيالي دي.
- برخي وېشه مړونه ګوره.
- بزه په خپل ښکر نه درنيږي.
- بشره د انسان خوی د شيطان.
- بلا بيده ښه وي نه ويښه.
- بلا د هغه پاځي، چي ئې ګړنګ په برېتو ځاځي.
- بلا پر بلا واوښته . بلا يو څه لاندي واوښته.
- بل ته کوهي مه کينه ، چي خپله پکښي لوېږې.
- بلخه بې تميزه ، لالی راغی بې کميسه.
- بللي خور ولي.
- بل من چپه شو.
- بنده اريان خدای پر مهربان.
- بنده راسه د خدای خپل سه ، لکه پر ځان داسي پر بل سه.
- بنده چي داد کي نو بې ياد کي ، الله چي ياد کي نو بې ښاد کي.
- بنده ليري موښلولي ، مرګ لار ورته نيولي.
- بنده و خپل عمل.
- بنده وتړل بارونه ، خدای کوله خپل کارونه.
- بوچ د اختر خلاص دی.
- بې دولتي د نفغقه خيژي.
- بيده بل بيده نسي ويښولای.
- بې زحمته راحت نشته
- بېزاره دي له خيره يم ، سپي دي در ګرځوه.

ketabton.com - The Digital Library

- بیزی په بد راضي.
- بې ښځي سړی ښه دی نه په کور کي همېش جنګ.
- بیعقل ته ئې ویل چي ونه دي په کونه کي شنه سول ، ده ویل ښه دی تر سیوري لاندي بې ناست یم
- بې عقل دونه په بل نه کوي لکه په ځان.
- بې ګودره کي ګیډېړي ، خود بې سین وړي.
- بې ما دي شل نه کړه

- بې چرګه به هم سباشي .
- بازخانه له بازه نه خالي کیږي .
- بې عمله علم ،د بې مېوې ونې پۀ څېر وي .
- بې قامه مقام نسته.
- بې وسي دؤسي نه ده .
- بخت یا پۀ کمڅۍ دی یا پۀ کوټۍ .
- برج مې جوړاوۀ ، را څه کدانه سوه .
- بې زحمته راحت نسته.

پ:
- پاړوګر د مار د لاسه مري.
- پاک اوسه بې باک اوسه.
- پټه خوله د مرکې لیوه دی.
- پر اخند ښوروا ډیره ده.
- پخوا له پخوا سره ولاړ.
- پر پچه وخوت کشمیر ئې ولید.
- پر پوست سیکه نه وهل کیږي.
- پر خره یوه لپه اوربشي ډیري دي.
- پر خره سپور دی خر ئې ورک دی.
- پردی خر په شا زور ور دی.
- پردی اور تر واوري سوړ دی.
- پردی زوی نه زوی کیږي.
- پردی سپی په ډوډۍ خپل.

ketabton.com - The Digital Library

- پردی کټ تر نیمو شپو وي.
- پردی جنګ نیم اختر دی.
- پردی غم تر واوري سوړ دی.
- پردۍ پڼه پر پښه معلومه ده.
- پردۍ ښې نیمه خوا دي.
- پردۍ مور نه مور کیږي.
- پر سپي هډوکي ډیر دي.
- پر سر دي مي زړوکی وي ، تر مخ دي زلمی وي.
- پر ښو تلوار پر بدو تأمل.
- پر غوولي کس سندري وایي.
- پر کورنګ نیمن دانه ډیره ده.
- پر کور خواري خوړلي ښه دي ، نه د هنجي ګُرت او غوړي.
- پر ګازره نه یم پر خرپ ئې یم.
- پر لڅه خبټه ئې ملا تړلې ده.
- پر لوړه وخیژه ځار وکړه ، خلک چي کړي هغه کار وکړه.
- پر ملا ئې لمبول دي بخښنه ئې پر خدای ده.
- پر نور څه انا نه سوم ، پر خوشاو زه انا یم.
- پر هغه د یخدای میلمه که چي مېلمه ئې نه وي لیدلی.
- پر یوه باندي چي دوه شي ، ړنا ورځ ورباندي شپه شي.
- پړ مي که ، مړ مي که.
- پړ هم یوه وراشه لري.
- پزپرېکړي که شرم درلودای ، د چړې نوم به ئې نه اخیست.
- پسرلی دی ځان اګا ه که ، ځان ته ژړه غوا پیدا که.
- پیشي به د اوړو جوړه کړم ، میو به څوک کوي.
- پیشي ته دي خدای وزر نه ورکوي ، کې ور کۍ نو د چغوکو تخم به وباسي
.
- پښتون نه دی چي د نوک جواب سوک ورنه کړي.
- پښتون له غیرته ځان اور ته اچوي.
- پښو پښو ارمان کاږۍ غالۍ ده.
- پښې هلته ځي چي زړه ځي ،
- پک تر پک پوري ، نو نه چي ماغزه ئې ښکاره وي.

ketabton.com - The Digital Library

- پک نه پر سر تار لري، نه په غوړو کار لري.
- پکه نه سر لري نه ئې په چا اويي.
- پکي سر په خيال کی ، چي مېږه ئې شاباز خان دی.
- پلار دي سپړو مړ کړ که پلو ؟ ول څه ئې کوم زما د ښې ووت که سپړو مړ کړ که پلو.
- پند ئې مه ګوره، ايمان ئې ګوره.
- پنځه ګوتي سره يو نه دي.
- پنځه ګوتي په خوله نه ننوزي.
- پور پر غاړه ، مېږ مرداره.
- پور د بدو برخه ده.
- پور چي تر سلو تېر شو ، وچه مه خوره.
- پوره ! ورک دي کړه دوه کوره.
- پوه سړی تر خپلي کمبلي پښې نه تېروي.
- په اوبو څوک نه چاغيږي.
- په بازيو کي تل بنګړي ماتيږي.
- په باغ کي الو غيم ، په کلي کي بلرغو.
- په بدلو څوک نه لويږي.
- په بل وطن کي د ښو کښت کوه تېرېږه.
- په پردي کور کي سل مېلمانه هيڅ نه دي.
- په پردي پرتاګه ځان نه پوتيږي.
- په پردې وطن کي ......... واچواه ترې تېر شه.
- په تياره کي خپل سپوری هم نه ښکاريږي.
- په تېر پسي ترتاب نسته.
- په تېرو اوبو پسي چا کره (( يوم )) نه وي وړی.
- په ټول بابړ يو لوړ.
- په جار جار دي مي ښه نسته ، ګېډه مي مړه که.
- په جنګ کي يو ګام د سلو کالو لاره ده.
- په ځنګله ئې و زيږوه ، په بازار کي ئې لوی که.
- په څاڅکي څاڅکي ډنډ جوړيږي.
- په خپلو خپل ، په پردو پردی.
- په خپله کوڅه کي سپی هم زمری وي.

ketabton.com - The Digital Library

- په خره ئې وس نه رسيده پر پالانه ئې راواچول.
- په خندا پسي ژړا ده ، په ژړا پسي خندا ده.
- په خواره ځمکه کي هر واښه شين کيږي.
- په خوله خوږ ، په کونه کوږ.
- په خوله لااله ، په زړه غلا.
- په دوبي چيري وې چي په ژمي سپوري کوې.
- په دنيا باور مه کوه ، ګاهي لوږ ده ګاهي ځوږ.
- په درنو درونډ په سپکو سپک.
- په ډيرى کې خوره ، په لږ کې وېشه.
- په ډيرو ليوني خوشحاله د ي.
- په رنګ ښايسته ، په عمل خواره خسته.
- په ړنديانو کي چېک اغا دى.
- په زحمت پسي راحت دى.
- په زهيرو زړو ګوتي مه واهه .
- په ژرنده کي دي شپه شه د زوم کره دي مه شه.
- په سات کي تل خوابدي پېښيږي.
- په سپکو سپکتيا ، په درنو ددروند تيا.
- په سپين سر ، مزل پر سر.
- په سپي زوى ، تل پلار ښکنځلى وي.
- په سټري مشي د چا څه شي ، زړه ئې ښه سي.
- په سترګو ګوري ، په زوى لوړي.
- په سرو کي توپير دى ، څوک لعل دى څوک کوټ کانى.
- په سلو وهلى ښه دى ، نه په يوه پېر.
- په شلومبو که چاغېدلاى ، غړکه به چاغه سوې واى.
- په شيدو سوى مستې پوکي.
- په شمله دي شوم غلطه ، کور ته چي دي راغلم يوه اوښه بله کته.
- په ښادي دي ښاده نه شوم ، په غم دي تور تلبه وسو م.
- په ښه پردي خپليږي ، ابراهيم د بدو چاري کړي خپل ئې پردي کړل.
- په غرمو ئې وګټه ړ په سيوري ئې وخوره.
- په غرمه کي اور بليږي . سورنا چي ورته رقصيږي.
- په غم پسي ښادي ده.

ketabton.com - The Digital Library

- په غمو کي د انا غم غيم.
- په غوجل کي چي يوه ومېږله ، رنګ ئې د ټولو بد کړ.
- په کام پسي ناکام دی .
- په کډو کي ئې ډېره اچولې ده.
- په کولمو کی ئې خواړه وچ ، خبري د غورمچ . ( الغوچ(
- په کور کي يو ټک دارو نه لري ، پر ځان ئې نوم غمباره ايښی دی.
- په کور کي نه کوک نه پياز ، اروړی د وازګو.
- په ګرځېدو نه مري ، په کښېنستو مري.
- په ګورم کي ئې غوا نه درلوده ، د ګوروان سر ئې مات کړ.
- په ګوړه ويلو سره خوله نه خوږېږي.
- په ګوښه کي هم ځوانان شته.
- په ګېډه کې فرزند ، نوم ئې ارجمند.
- په ګېډه مي شوتل دي ، په ملا مي توره سپر دي.
- په لنګو مېږو کي ازان وکی.
- په ما او تا چي روږ دی ، که سل واره نر سونه مو پرېږدی.
- په مځکه کي سيوری نه لري ، په اسمان کي ستوری.
- په ناسته غُمبر نه کيږي.
- په نن پسي سبا سته.
- په وهلو څوک نه سميږي.
- په هر شي کي ښه او بد شته.
- په هغه دي خدای مه واهه چي وهل ئې نه وي کړي.
- په هغه وياله کي چي اوبه تللي وي بيا به راسي.
- په هندوستان کي ئې ګټي ، په جوره ګلي ئې بايلي.
- په هر غار ګوتي مه منډه ، پسات به در وسي.
- په يوه استنجاء لمونځ نه کيږي.
- په يوه چپلاخه د سلو مخ خوږيږي.
- په يوه ګل نه پسرلی کيږي .
- په يوه ځين کي دوه کسه نه ځائيږي.
- په يوه لاس کي دوه هندوانې نه اخستل کيږي.
- په يوه موزه کي دوې پښې نه ځائيږي.
- په يوه ودانه ، په دوهم ببرانه ، په دريم ډګ ډګنی.

ketabton.com - The Digital Library

- پیاز دي وي په نیاز دي وي .
- پیا څه کوم ، نیاز ئې څه کوم.
- پېښ نسته ، شرم وغره ته ختلی دی .
- پېري ته غزنی څه دی.
- پیر که خس وي ، د مُرید بس وي.
- پیر نه الوزي مُرید ئې الوزي.
- پیل که مړ سي ، یو زنګون اوبه ئې لا په نس کي دي.
- پیل چي ژوندی وی یو لک دی ، چي مړ سي دوه لکه دی.
- پیل تلی ، تلی پر پکی ودرېدی

- پر اوښ به سپور یې سپی به دې وخوري .
- پهٔ یوهٔ ګل نه پسرلی کېږي .
- پهٔ جنګ کلي نه کېږي .
- پښه خپله پنه پېژني.
- پهٔ شرم دې هغه وشرمېږي ، چې پرې پوهېږي .
- پښې له بړستني سره سمې غزوه .
- پور چې ځنډنی شي ،خوردنی شي.
- پهٔ یوه پڼه کې دوه پښې نه ځايېږي .
- پړ مې کړه ، مړ مې کړه .
- پهٔ شیدو سوی ، مستو ته ورپوکي .
- پلټونکی پیداکوونکی دی.
- پیاز دې وي ، پهٔ نیازدې وي .
- پهٔ حلوا،حلوا ویلو خلهٔ نه خوږېږي .
- پر ملایي لمبول دي ، بښل یې پر خدای دي.
- پلار ګټلې پر زوی اسانه دي .
- پردی کټ تر نیمې شپې وي .
- پهٔ پښتو کې به پښتی ماتوې .
- پهٔ منډه نه . پهٔ تڼده ده.
- پټکی چې له سره ولوېږي ، او پر ورو تم شي هم نه دی لوېدلی .
- پهٔ خنزیرانو کې هغه ښهٔ لا کوم وي ؟

ketabton.com - The Digital Library

ـ پۀ تيارۀ کې هرڅوک ډارېږي ، څوک نارې وهي ،څوک يې نه !
ـ پز پرې کړي که شرم لرلای ، دچړې نوم به يې نه اخيست.

ت:
ـ تارو وخوړه کهی ، که ئې دا کهی په زړه وه بيا به نه ځي په غدی.
ـ تارو يو مرغه دی ، چي چا ونيو د هغه دی.
ـ تازيان چي هوسۍ وهي د هغو خولې توري وي.
ـ تازي چي تر تازي پاته شو لکۍ ئې غوټه پرې که.
ـ تر اوبو د مخه ګاولي مه کاږه.
ـ تر باغ ئې مورۍ لو ده.
ـ تربور ته بې وروره مه سې ، ورور ته بې زويه ، پلار ته بې موره.
ـ تر بېکاري ، بېګاري ښه ده.
ـ تر بې عقل خپل ، هوښيار دښمن ښه دی.
ـ تر بېکاره کښېنستل لور زېږول ښه دي.
ـ تر پردي زوی خپله لور ښه ده.
ـ تر پښو لاندي مځکه مه ګوره ، ليري واټن ګوره.
ـ تر تياره برخه مه تېرېږه.
ـ تر خوښ نس را پيښ.
ـ تر خوړلي لا اميد ښه دی.
ـ تر دې ئې تېر ، هغه نور ئې ستا ګنډهير.
ـ تر رمې ئې سپي ډېر دي.
ـ تر زرين پوښه پياده ، د غوايي سپور ښه دی.
ـ تر سړه ګټه ترت تاوان ښه دی ږ.
ـ تر کورني سړي ، ګښته خر ښه دی.
ـ تر شير ئې په ښوروا خوشحاله دی.
ـ تر مز ئې شکردانه ډيره ده.
ـ تر مړه زمري ، ژوندی ګېډړ ښه دی.
ـ تر مور او پلار خوږې ، راکښېنه که ورجي غوښي خورې . ( مراد د مخاطب ښځه ماندينه ده(
ـ تر ناپوه دوست ، هوښيار دوښمن ښه دی.
ـ تر نکه ئې وپوهېدې؟ ډير دي.

ketabton.com - The Digital Library

ـ تر ورخ چي اوبه تېري شي ، بېرته نه را ګرځي.
ـ ترور نيمه مور.
ـ توروری تروری ، مور ‌به سره جوړ سو ستا ئې پاته مخ توری .
ـ تر وېش ئې په چور خوشحاله دي.
ـ ترياکي دوه په ايکي.
ـ تر يوې خرما دوې وڅکي ښې دي.
ـ ترهېدلی خو ترهېدلی دی ، نو ښه پسي چغي که.
ـ تږی په خوب اوبه ويني.
ـ تږی سپی ئې پر کور نه اوبيږي.
ـ تشه لاسه دښمن مي ته ئې.
ـ تښتي له سپږلي ، غول کړي په زمري.
ـ توبه د مړو خالي ده . ( توبه ، د يو علاقې نوم دی د قندهار په جنوبي سرحد کي(
ـ توپکه مه د ي خوله سه ، مه دي کونه.
ـ تو ، په شونډانو کيږي.
ـ توتکۍ وای بې ازاره ده ، ويل د ځمکي د چنجيانو وپوښته.
ـ تور په توره شپه اخله ، چي سور وينې سين مه اخله . ( مراد ځيني غوا يا غوايی دی دا د بزګرو متل دی(
ـ تور د تور دی ، ژيړ د نجنو دی.
ـ تور سپی د اوزګړي په بيه خرڅيږي.
ـ توره کښلې ، کونه کښلې.
ـ توره په اصيل والي غوڅه کوي.
ـ توري نور ځوانان وهي ،منصب سدو وخوړی.
ـ توري چرګي سپيني هګۍ اچوي.
ـ توزنه هيله د خدای د کرمه وتلی ده.
ـ توکل نر دی ږ انديښنه ښځه.
ـ توکلي نارې خولې ته بېرته نه اخيستل کيږي.
ـ ته څه سخندر سخندر لرې ، چه نه اورې نارې.
ـ ته ښه سړی ئې د پلار دي دامانه کړی.
ـ ته کښته سه ، آس ماته راکه.
٧ـ ته مي بزې واهه ، زه به دي روژې واهم.

ketabton.com - The Digital Library

ـ ته هم اسیوان زه هم اسیوان ، ته واماته واغزل ووایه.
ـ تبغ په جوهر خوارک کوي

ـ توکلې نارې ببرته نه اخیستې کېږي .
ـ تماشبین د ښې منځ وولي .
ـ تور بانجان بلا نه وهي .
ـ تر چارۀ لاندې هم ساه سته.
ـ تر ورخ تېرې اوبۀ ببرته نه راګرځي .
ـ تیرۀ راځي ،راځي دخوار پر سر لګېږي .
ـ تۀ زما دارو ، او زۀ ستا دارو!
ـ تر بې عقله دوست هوښیار دښمن ښۀ دی .
ـ تورۀ وکړه ، توره پخپله چغې وهي !
ـ تربور مړ کړه ، لمر ته يي مه اچوه .
ـ تربور مړ ګڼه ،پر يې مه ګڼه .
ـ تقدیر پۀ تدبیر نه بدلېږي .
ـ تر وزګار بېګار ښۀ دی .
ـ تر وژلي ورور پرې ایښې ګومل ښه ده.

ټ:
ـ ټر ټر دادي خاني ده ، خوراک دي نالبکی ده ، ستاګوز ته اربانی ده .( ګوز څه مراد کبر او لوی خبري دي(
ـ ټمبه ته یو باد هم غنیمت دی.

ج:
ـ جار دي سم ګوته درووړم.
ـ جار دي سم روپی ، چې هم سپر ئې هم ګدۍ.
ـ جت مي تک تور ، نه ئې عیب سته نه پېغور.
ـ جع پر غاړه او جغ غواړه.
ـ جفا مرګی ښه ده ، نه بې اتفاقي.
ـ جنګ په وسله ، ننګ په غله.
ـ جنګ پر خاوره ښه دی ، نه پر شېدیاره.

ketabton.com - The Digital Library

- جنګ پر شیدیاره ښه دی ، نه پر خاره.
- جنګ جنګي کوي ، ننګ ننګي.
- جنګ چي نه کوې ډېره لو اخله.
- جنګ سوړ سو ، میری تود شو.
- جولا سوی نه ئې ، بیا نېچې غلا کوې.

څ:
- څیراغ چي ئې په کور کي لګیږي و صحرا ته څه حاجت دی.
- څمڅه په ځان غره سوه ، چي په دې اوګړه سره سوه.
- څنګه وي هغه سیاه بخته ، چي څلویښت ورځي نه وي نیک بخته.
- څوری څه په څنګ څه په نس.
- څوک چي لاس درپوري بند کي مه ئې غوڅه وه.
- چوک چي بیده وي ، مېښه به ئې نرګټی زېږوي.
- څوک مه واهه په ګوته ، تابه نه ولي په لوټه.
- څوک وائې چي زما د غړیکي خوند بد دی.
- څوک وائې څه وخورم ، څوک وائې په چائې وخورم.
- څونه چي خرګی ، هغو نه ئې بارګی.
- څو ئې ونه شاربې کوچي نه کوي.
- څه توره تېره وه ، چه انا ورسته وه.
- څه خوره ، چه پرېږده.
- څه چي په کټو کي وه ، هغه په څمڅۍ کي ښکاري.
- څه دي کول ،چي پلار او نیکه دي کول.
- څه راوړه ، څه به یوسې.
- څه زه بد وم ، څه دښمنانو لاس راپسي تکوهل.
- څه ژرنده پڅه وه ، څه غنم لانده وه.
- څه لاس تر مینځ ، څه غر.
- څې کوې ، چي نې کوې

- څلاکه مرغۍ پهٔ غبرګو پښو نښلي .
- څهٔ چې کرې هغه به رېبې .
- څهٔ غنم لاندهٔ وو څهٔ ژرنده پڅه.

ketabton.com - The Digital Library

ځ :
ـ ځان دي وخوری نوکری ، چي په لړ و ډېر لری.
ـ ځان ته ښه وائي ښه نه کړي ، داڅه وائي دا څه کړي.
ـ ځانه ! خپله ځانه. !
ـ ځنګل چي اور اخلي ړ وچ او لانده ګرد ه اور اخلي.
ـ ځوان پر غړي زوړ پر لري

ـ ځان ساتلی ښهٔ دی ، دښمن وژلی ښهٔ دی.
ـ ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بلېږي.

ح:
ـ حیادار حیا کوله ، بې حیا ویل زما څه بېریږي.
ـ حال منصور وایه چي سر ئې په دار شو .

چ :
ـ چا په کلي کي نه پرېښو، ده ویل اس مو د ملک کره وتړی.
ـ چا په ورا کي نه پرېښو . ده ویل د مخ اوښ زما دی.
ـ چاپه قافله کي نه پرېښو، ده ویل د مخ اوښ زما دی .
ـ چاړه چي د سرو زرو سي ، څو ئې په نس کي نه و هي.
ـ چا مونده ، ما مونده.
ـ چرت ئې واهه خورجین ئې بایلو.
ـ چرسي زوی نه زوی ، تارياکي دوه په ایکي.
ـ چرګ په تالي کي ګوره .
ـ چرګ دی یم حلالوه مي مه.
ـ چرګ پر ډیران مه ګور ه ، پر کاسه ئې ګوره.
ـ چرګ چي غټيږ ي ، کونه ئې تنګيږي.
ـ چرګ چي ځوان شي پر بام ورو ورو ځي.
ـ چرګ پر پردیو غوړو مست وي .
ـ چرګه مي ناجوړه ده بهانه مي ورته جوړه دي.
ـ چرګه چي ببره شي ، دا هم بد جناور نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

- چرګ د مالګي په څکلو څه پو هیږي.
- چغال ته الو نه رسیده ویل دا تروه دي ، چغال پر نعمت شکر کښه چرګ ئې د خولې ووت.
- چه اړ سې ، و خره ته واى بابا.
- چي اوبه وي تېمم ته څه حاجت دی ؟.
- چي اوسې په خوی به د هغو سې .
- چي بابا ژوندی و ، د ادې په لاس کودی وو.
- چي بابا ژوندی و ، هلته ادې ادې وه ؟.
- چي ایمان وي مرګ څه دی.
- چي باد نه وي ونې نه ښوري.
- چي باجوړ دي نه وي خوړلی ، بد مه پر وایه.
- چي باد وي د پاسه ، باران ئې سم دلاسه.
- چي باد ئې وي د کښې ، وريځې ځغلې لکه بزې.
- چي بابړ ئې زما په کتاب پړ ئې.
- چي بخت ئې تور سي دښمن ئې د پلار کور سي.
- چي بد ګرځي ، بد په پرزي.
- چي بد کوي ، بد به مومي.
- چي بد غواړي ، پر بدو به واوړي.
- چي بې ملو ځي ، تور ما بې پر اوږو ځي.
- چي فال ګورم ښه راځي ، چي يار ګورم نه راځي.
- چي درانه بارونه وړي ، خوراک ئې ځوز دی.
- چي اومه کاکونه خوري ، خوراک ئې ګوز دی.
- چي پردئ لور ته ئې طمع سي ، یو من غوښه ئې کمه سي.
- چي پر لوړه ګرځي ، پر ژوره پرزي.
- چي پر کوي منډک دي ، یووې ، نودی په غووې.
- چي پلار ئې وز نه وي ویشتلی ، مور ئې غوز نه وي ویشتلی.
- چي پوځی خورې ، متار به سهی.
- چي په جنګ کي ................ غوړي ، نوم ئې سدو دی.
- چي په ځان کي ويني ، په جهان کي ويني.
- چي په پټه وي ، په ښکاره لنګيږي.
- چي په ناز لويږي ، په زيار زړيږي.

ketabton.com - The Digital Library

- چي په خره دي کار نه وي ، اشه مه ورته وايه.
- چي په خپله ئې وخورې غول به سي ، چي بل ته ئې ورکې گل به سي.
- چي په مرگ ئې ونيسې ، په تبه به راضي شي.
- چي مېلمه ئې سوړسک خوري ، کوربه به څه خوري ؟.
- چي په ډېر ئې واخلې ، په لږ ئې مه خرڅوه.
- چي په ډله کي دوست نه وي ، مه پکښي کښېنه.
- چي په ډېر حرص ئې غواړي ، هغه کم خوري.
- چي په زور ورسره نه وي برابر، د هغو د څنگه نه کښېني زړه ور.
- چي په کور کي غوړي مومي ، ليونی به غرو ته درومي .
- چي په نيمه شپه بېدار ئې ، که غل ئې زما يار ئې.
- چي پيلان کوي ، پيلخانې به هم کوي.
- چي پيلان لرې ، دروازه به لوړ ي ايږدې.
- چي تا وکړل ، ما وريبل.
- چي تر ملکه دي کړه ، نو دي ورکه کړه.
- چي ته راځې له هلکه ، زه په څلور مړونه وکم.
- چي تيار وي ، هغه يار وي.
- چي تېرسو ، هغه هېر سو.
- چي چرگ نه و ، آذان چا کاوه.
- چي چنگښي وای کور_ نرکی وای مقر.
- چي چنگښي وای غار ، ترکی وای کندهار.
- چي څوک دي ونه پوښتي مه گډيږه.
- چي څه درپوري وينم ، گوړي غوندي دي وينم، چي څه نه درپوري وينم ، هرگز دي نه وينم.
- چي ځوان وم د هري چټي يار وم ، چي زوړ سوم د خواري خواري پروړ سوم.
- چي حيا مي ځني نسي څه بلا مي ورته نسي.
- چي حج حج لرې ، يوخت به حاجي سې.
- چي خان ئې په ياران ئې ، چي ياران نه وي توري خاوري د بيابان ئې.
- چي خاوند ئې لېټۍ خوري د سپو بې څه احوال وي ؟ .
- چي خبر سي بې اثر ، ترينه پټه خوله بهتر.
- چي خدای ئې ورکوي ، پټل ئې يار دی.

ketabton.com - The Digital Library

- چي خدای کوي ، هغه به وسي.
- چي خر نه لري ، خر نه ارزي.
- چي د اختر کالي دي دادي ، د لو دا به دي کم وي ؟.
- چي د هلکه وفا غواړې ، لکه د خره چي کیمیا غواړی.
- چي د بنګو بټل زدوئی ، اخیر به بنګي سي.
- چي د بل مور بوره وي ، ستا به هم بوره کي.
- چي د جان سي تر سر تېره ، خدای دي نه کي دا نا بوده دنیا ډیره.
- چي د ګېډري په جنګ وزې ، تایه د زمري نیسه.
- چي د ملا غواړی ، خدای دې نغاړی ، چي و ملا ورکي خدای دي ورکي .
- چي در ئې نه کړم ، ازار دي پر څه کړم ؟.
- چي درومې څه به مومې.
- چي دود نه وي هلته سود نه وي.
- چي د ړندو پر کوڅه راسې ، پر یوه سترګه لاس ایږده.
- چي دي نه وي دردمونده . در به نسي پر تنګسه:
- چي ډب نه و یادب نه وي.
- چي ډول دي وي په څنګ ، دوهلو دي څه ننګ.
- چي ډیر وایي . لږ خیژي.
- چي ډیری سي ، مرداری سي.
- چي راځي د بل د کوره ، پرتابه شپه سي تکه توره.
- چي زر وي . زاری د کمه ده ؟.
- چي زړه خوږیږي ، له ړندو سترګو هم اوښکي راځي.
- چي زما پر مینه نه وي ، هغه واړه ښه سړي وي.
- چي زما په ډوډۍ مست سي ، هغه زما دمور مېړه سي.
- چي زما سره ځي ، تل به توري وڅکي خوري.
- چي زیار کاږي ، ګټي د هغو دي.
- چي ژرنده ئې ګرځي ، بلا ئې پرځي.
- چي ژوندی وم ښه مي غواړه ، چي مړ سوم مه راپسي ژاړه.
- چي سپی د دنیا نه سي ، ددنیا خاوند به نه سي.
- چي ستا د کوره راځي ، په غلبیل کي دي راځي.
- چي ستړی نه سی ، موړ به نه سی.
- چي سر وي خولۍ ډیري دي .

ketabton.com - The Digital Library

- چي سر دي نه خوږيږي داغ مه پرایږده.
- چي سره ونه مېږي ، سره به ونه ګټي.
- چي سوی تر پلو ده ، تازي ته غول ورغله.
- چي شپه ئې ترمينځ وي د هغي ببلا مه بېربېږه.
- چي شل ګله ورکې ، درې ګله ورنه کې ، ګل بې نه کې . ( ددې څخه مطب بنځه ده(
- چي ښه هلته دي شپه .
- چي طلب ئې کوې پرېيښ به سې.
- چي عقل نه لري ، پر کور بې تل غم وي.
- چي علي درسره مل وي خطر نسته.
- چي غل نه ئې د پاچا مه بېربېږه.
- چي غل نه تښتي ، مل دي وتښتي.
- چي غواړې ئې ، پروا بې وړې.
- چي غوټه په لاس خلاصيږي ، حاجت غاښ ته نشته.
- چي غورځي هغه پرزي.
- چي کوچنی وي پر پښو ځي ، چي لوی سي پر اوږو ځي.
- چي کوچنی ونه ژاړي ، مور تی نه ورکوي.
- چي کرې هغه به رېبې.
- چي کلی په نامه لري ، يو خوی تر نور ښه لري.
- چي کور پر غره لري ، هم نوي هم زاړه لري.
- چي ګړنګ مي څڅېده ، چي خدای راکړي ستا ئې څه ؟.
- چي لری دی لری ئې ، لړی دی لړی ئې.
- چي لږ خوري هغه تل خوري ، چي ډيره خوري هغه ګنډير خوري.
- چي لو کونه وينې ځني ځغله.
- چي لوی غاپي ، کوچنی تراپي.
- چي له مازيږي ، بلا زيږي.
- چي له خدايه پټه نوي ، د بندګانو ئې ولي پټوې.
- چي د ياره وائې ، دځانه وايي.
- چي مربی لری ، مربا خوره.
- چي مړونه وي هلته کورنه وي.
- چي مړ سو هغه پړ سو.

ketabton.com - The Digital Library

- چي مشر ئې ساوڼ وي ، لښکر ئې ګوزاوڼ وي.
- چي مشر ئې وي سپی ، د کشر ئې څه کمی.
- چي مشر ئې غمبر وي ، اختر بې ماذيګر وي.
- چي ملا وائې هغه کوه ، چي ملا کوي هغه مه کو ه.
- چي مور دي نه وي په پلرګنی ، ورې ولي ځې ليونی.
- چي مور لري ادکه ، په صفت به ئې واده که.
- چي مور ئې بتياري وي ، زوی ئې نه فتح خان کيږي.
- چي مور مړه سي ، پلار پلندر سي.
- چي مېښه زهيره وي ، کټی ئې واهه.
- چي نغده دي وليدل څنګه دي وخندل.
- چي نه کوي حبيب ، څه به وکي خوار طبيب.
- چي نه کار په هغه دي څه کار ؟.
- چي نه دي وي د موره داسي مه وايه چي وروره.
- چي نه خوری د باغه ، غم به ئې پر څه خوری غرمساغه.
- چي نسې تلای وابه دي خلم ، چي نه ځې څه دروکم.
- چي نه دي وي له ملا ، داسي مه وايه اغا.
- چي نه لري هلک ، هغه کور دتېغ لايق.
- چي نه لري سړ ي، نه دي کورت خوري نه غوړي.
- چي نه غواړم ، هغه مه راپېښوې.
- چي نه لرې پنګه ، مه کښېنه د چا د څنګه.
- چي نه مرم لابه واورم.
- چي نه دي وي د پښته ، دهغو کسانو تښته.
- چي نه پوهيږي د هغه دوې برخي.
- چي چي نواله خوري جاناز به وهي.
- چي نه منې د يار پندونه ، لاس به نسې پر سرونه.
- چي نه ځيني خلاصيږې ، بړ بړ پر ورځه.
- چي نوای د خدای زرونه ، د هر چا پس وه خپل کورنه.
- چي واورې وايه ، چي ووينې مه وايه.
- چي وخت د ښکار سي تازي ، اسهال سي.
- چي وخت د ختمې سي ، د يتيم پزه ويني سي.
- چي وخورې د نر لغته ، داسي به کښېنې لکه اورته.

ketabton.com - The Digital Library

- چي ودي نه پوښتي ، مه ګډېږه.
- چي ورور ئې نه کې ، پر ....... به ئې نه کې.
- چي ولاړ سې تر بلخه ، درسره ده خپله برخه.
- چي وويشت نه سي ، خبر به نه سي.
- چي وې غواړي په خوله ، نو خورې به ئې په څه ؟.
- چي هوږه ونه خوري د خولې ئې بوی نه ځي.
- چي هوس دی ، دغونه بس دی.
- چي يو لور ئې تر ملا وي ، مې ځني رغوه.
- چي ئې ياد کړې په وړکتوب ، هېربې نکړې په زوړ توب.
- چي يو واهم ، بل په رنګيږي.
- چي ئې زده کړې پر پېکی ، هير بې نه کړی پرنګښی.
- چي زده د کميس غاړه ، هغه ئې خوري په لکه غاړه.
- چي ئې زده د کميسه غاړه ، هغه بيا کله شړلې ولاړه.
- چونه انا راوبولی ، چي سر ئې په کټو کي پرې کي.
- چيري دي واهم ، چيري دي باسي.
- چيري هېڼو ، چيري ګېڼو ، راځه چي سره ځو.
- چيري ...... ، چيري څنګل.
- چيري چي ډنګ سي ، د ابی کودی تر څنګ سي.
- چيري کلاله ګوره ، خو خپله سياله ګوره

- چې چېرې ښه ،هورې شپه .
- چې مړ شي ، هغه پړ شي .
- چې زوړ شي ، څۀ ترې جوړشي .
- چې درومې ،څۀ به مومې .
- چې ښار وران شي شادوګان هم پۀ کې لوټې وولي .
- چې مدعي له کوره نۀ وي ، خونه يې توره نۀ وي .
- چې اوسې پۀ خوی به د هغو سې .
- چې نۀ وي آدم خان ،تل به يي مري اوښان .
- چې څنګه مخ ،هماغسې څپيړه.
- چې عقل يې کم ورکړ ، تل يې غم ورکړ .
- چاړۀ که دز رو شي هم پۀ نس نه چوخيږي .

ketabton.com - The Digital Library

- چې ځي ،ځي ابازو له به راځي.
- چونګښه له ماره سره تله ، پهٔ منځ دوه ځایه سوه .
- چې چېړې ډب وي ،هورې ادب وي .
- چې راشي قضا ړندې شي بینا.
- چې یارانه پهٔ شفتالو شوه ، نو بیا ګرانه ده .
- چرګ دې یم خو حلالوې به مې نه .
- چې پهٔ ما پسې سپره سې ، بیا زما پهٔ وینو سره سې!
- چې خوب درشي بالښت نه غواړي ،چې زړهٔ مئین شي ښایست نه غواړي!

خ:
- خانده خانده ، ښه کور دي اوډلی دی.
- خان صاحب ! یو تار ورېښم نه خوړ ، لس زره روپۍ ئې وخوړلې.
- خاوره د خُسر د ګوره اخیستل کیږي.
- خبر د خدای لپاره ، لوړ د ورور له پاره.
- خبره تر خبري پوري یادیږي .
- خبري کي افغاني کوي ، نې پلار نه بې ادې کوي.
- خبري زده که بیا ئې وکه.
- خبري ډیري ، سر ئې یو.
- خبري ښې کوې . لکۍ ئې کږې کوې.
- خپل سر په خپله نه خریل کیږي.
- خپل عمل د لاري مل.
- خپل عېب د اوږو مېنځ دی.
- خپل که دي مړ کي ، ولمر ته دي نه غورځوي.
- خپل کور ، یا خپل ګور.
- خپل پر تنګسه په کار دی.
- خپل دا په نس ، دبل دا په وس.
- خپل بدي وژړوي ، پردی به دي وخندوي.
- خپل به ازار سي بېزاره کیږي نه.
- خپل دا مي خپله کې ، که د بل دامي هم خپله کې.
- خپل ځان د ي ساته ، بل ته مه وایه چي غله.
- خپل مال تر سترګو لاندي ښه دی.

ketabton.com - The Digital Library

ـ خپل وطنه ، ګل وطنه.
ـ خپل خپل ، پردی په ډیرو نارو خپل.
ـ خپل خپل وپېژنه ، پردی پردی.
ـ خپله خوله هم کلا ده ، هم بلا.
ـ خپله پښه ، خپله پڼه پېژني.
ـ خپله خوله په بل نه وچيږي.
ـ خدای د کراری مل دی.
ـ خدای د ناروا ؤ مل نه دی.
ـ خدای په ریشتیا خوښيږي.
ـ خدای دحق ملګری دی.
ـ خدای شړلی نه سميږي.
ـ خدای وهلی د خلګو نه شرميږي.
ـ خپله لاسه ګله لاسه.
ـ خدای د ناروا ملا نه تړي.
ـ خدای دي په هغو پوښته چي لري ئې.
ـ خدای او مړو سره وپيژانده ، خو مړونه او مړونه نه سره پېژني.
ـ خدای دي هيڅوک داسي نه که ، چي خپل درنه که د بل سپکه.
ـ خدای يو دی ، روزی ئې ډيري دي.
ـ خدای چا ليدلی نه دی پر صنع اوقدرتو ئې پېژني.
ـ خدای خبر دی ، چي تره کاپر دی.
ـ خدای او پاچا ئې راکوي ، شيخ مير ئې نه راکوي.
ـ خدايه لوی مي کې ، لويي را مه کې.
ـ خدايه لويه ! ما وساتې بې زويه.
ـ خدای وائې ته حرکت کړه ، زه به برکت کړم.
ـ خرابه ښځه د بل ده.
ـ خر پر لار که ، خپله چار که.
ـ خر پلار که ، خپله چار که.
ـ خر په پالانه نه درنيږي.
ـ خر په اته ، کوتې ئې په شپېته.
ـ خر په وهلو نه آس کيږي.
ـ خرپه غره کي بوعلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

ـ خر په سبا څه خبر.
ـ خر نه دی کچر دی ، په پوري د خره سر دی.
ـ خر چي تر خره پاته شي ، غوږ ئې پریکه.
ـ خر چي پردانه مړ سي شهید دی.
ـ خر چي تر مکې ولاړ سي هغه خر دی.
ـ خر دباره سره خوري.
ـ خر که مري ، دیگان به وړي.
ـ خر له باره ولوېدی ، دگوزو ونه لویده.
ـ خر وځان ته حیران و ، خاوند ئې بار ته.
ـ خرې موري ، خوږې موري.
ـ خر هغه دی ځل ئې نوی دی.
ـ خره ته دي خدای ښکر نه ورکوي ،که ورکي د غویو نسونه به څیري کي.
ـ خره ته ئې ویل زوی ته وشو ؟ ده ویل څه ئې کوم هغه به خپل بار وړي ، زه به خپل.
ـ خره گله که ، بیا گله که.
ـ خلگ په لیوني پوري خاندي ، لیونی په خلگو پوري.
ـ خوار چي خوار سي ، باک ئې نشته .عزیز کرده سړی چي خوار شي تل دي ژاړي.
ـ خړ سپی د شرموښ ورور دی.
ـ خوار په خپله خواري نه شرمیږي.
ـ خوار تلتک نه درلوده ، چي پیدا ئې کړ ، تر غرمې پکښي پروت و.
ـ خوار کبرجن د خدای دښمن دی .
ـ خوار خدای کړې ، سپی چا کړې ؟.
ـ خوار سو ، د ټره ونه لویده.
ـ خوار سړی ، ابلک ئې سپی.
ـ خوار کبرجن ، زوړ زناکار خدای نه بخښي.
ـ خواره وږې ، څه به وخورې د سوي دسبزی.
ـ خواره بازاري ، هغه ته هغه خواري.
ـ خواره سې مکاري . چي هم جنگ کوې هم ژاړې.
ـ خواره کی هغه مینځه ، چي د مینځي کونه مینځي.
ـ خواره سې چرگي . چي له خیاله مستک نه خورې.

ketabton.com - The Digital Library

ـ خواره بدي غواړم نه د ورور د مرګه.
ـ خوار هندو دی چه ايمان نه لري.
ـ خواره هغه کړې چي ګاللای شي ، بوره هغه کړې چي ژړلای شي.
ـ خواري لوي تخت به زه درکړم ، بخت دي خدای.
ـ خواري د مړو په شا ده.
ـ خواړه د رنګه خوړل کيږي.
ـ خواښي پر زوم ريږدي ، زوم پر لور ور پرېږدي.
ـ خوري تخت به زه درکړم ، بخت د ي خپل دی .
ـ خورئې د ماما د ميني دښمن دی.
ـ خورې سوړ سک تېغ د د پلاو باسې.
ـ خوږ به دي کړم ، نو نه تر ځان.
ـ خوشي خواري ، دلور په لمسي.
ـ خوله په غاښو ښايسته وي.
ـ خوله د ي خپله ، ګل په وله.
ـ خوله په مميزو مه امخته کوه.
ـ خوله چي اموخته شي ، آس نه دی چي قبضه شي.
ـ خونه که مي وسوه ديوالونه خو ئې پاخه دي.
ـ خوند د فکرو زيات دئ ، ترخوند د بکرو . ( ځيني وايي : خوند د چکر زيات تر پکر (
ـ خيراتي آس ، غاښ ئې کتل ؟.
ـ خپښي په خوښي ، سودا په رضا
ـ خواره چې مَړه سوه ،نو مړه سوه .
ـ خوار سړی ، سور يې سپی .
ـ خپله ژبه هم کلا ده ،هم بلا .
ـ خپل عمل د لارې مل.
ـ خندی دغاړې غړوندی دی .
ـ خبره کوه د خدای لپاره ، کوتک وهه د ورور لپاره .
ـ خپل عيب د ؤلي منځ ، د بل عيب د کلي منځ.
ـ خر يار کړه ، مطلب پرې بار کړه

_ خټکی چې خټکي ته وګوري ، رنګ واخلي .

ketabton.com - The Digital Library

ـ د :
ـ داهاړلمرته خرنشي ټينګيدی.
ـ داّهنګريوټك دزرګرسل ټکه
ـ داملوکوپه تول خرڅيږي.
ـ داوبوخروارډی په ګوته ښوريږي.
ـ داباسيندنه اوبه غواړې تږی نه يې.
ـ داوبونه کوچ اوباسي.
ـ داوښ دشاوړیَ ده
ـ داهاړليوه دی
ـ داّسمان لاندې يې کوردی په دی پوردی
ـ داڅه ډوول سړی دی
ـ داسې دی چې په ژبه خلك ښتي.
ـ داوړیَ نه شړیَ کيږي
ـ داور سوي په اور رغيږي .
ـ داډول اوداوتې .
ـ داغزوپه پولیَ مې شپه وه .
ـ داغزوپه لښتويې وهي.
ـ داحال دی چې دغوايي وال دی .
ـ دارې غوندې دواړوخواوته اچوه.
ـ داوښ په شاسوردی .
ـ دارهټ منګوټې دي .
ـ داجل نه مخکې مري .
ـ داګز دا ميدان .
ـ داملوکوپه تول کې لاړو.
ـ دبازله ځالې بازپاڅيږي .
ـ دباران نه پاڅيددناوي لاندې کښيناست .
ـ دبوسولاندې اوبه مه تيروه.
ـ دبريښناپړق دی.
ـ دبادام په شان مې زړه سوری سوری دی .
ـ دبيزوپرهردی.

ketabton.com - The Digital Library

ـ دبل په اوږومیاشت ګوري .
ـ دبل په اوږويي لاس ایښی دی .
ـ دباران پسې پټې ګرځوي .
ـ دبادپه نیلي سوردی .
ـ دباغوان لاس ګل دی .
ـ دباران تورمخی دی.
ـ دبنوخښتن په آرامه نه وي .
ـ دبنوکورواران دی.
ـ دپردي زوی نه خپله کږمیزنه او پوواړي لورښه ده .
ـ دپولۍ پرق ته ناست دی.
ـ دپاچاصاحب بازدی په ډیران چورګوړي نیسي.
ـ دپنداني قصه شوه .
ـ دپخلادښمن نه ځان ساته.
ـ دپاچانزدیکت اوردی .
ـ دپراچه موټی دی.
ـ دپاسه مسئله راغله په درست جهان خوره راغله.
ـ دانسان مخ دخداي له نوره دی .
ـ دپیشودوژلوشپه ده.
ـ دبلي ونې سوري ته نیالګی نه غټیږي.
ـ دبل سوری پرې شوی.
ـ دبدو به بد مومي.
ـ دبل په غاړه چاړه تیره کوي.
ـ په بل خپل زور معلوموي بل دخپل ظلم وسیله او اله ګر ځوي .
ـ د بنګړ وباردی.
ـ دانااوګره ده په څکلو خلاصه شوه.
ـ دټوکي نه پټاکه شوه.
ـ داخرت سختې خوارۍ دي.
ـ داوسپنې نه غُل پاتېکیږي.
ـ دانځرګل شوې.
ـ داولادبد چاته نه ښکاریږي.
ـ دپادوان پخپله غوا نظروي.

ketabton.com - The Digital Library

ـ دپاسه ښه رنګين دی دننه يې زړګی خوړين دی.
ـ دپادوان ګټه په ؟.. تنکيوکوټو کې ده.
ـ داو ښ تالو دی.
ـ داوښ پل يې جوړکړ.
ـ دبې صبره دې بيخ ووځې وايې ماته يې په لمن کښې واچوه..
ـ دتورې شپې غل دی.
ـ دټيپروپه تول يې ورکړه.
ـ دجوړ و نايی دی.
ـ دجمعې مړی شو.
ـ دجولامنډه دموږي پورې وي.
ـ دجومات تنبه ده.
ـ دجوارئ موټی دی.
ـ دجب نه اوبا سه پيسې ورباندې وخوره پټاسې
ـ دخيرپه غونډئ ناست دی
ـ دخنداپسې ژړاشته.
ـ د خپلې کوټې واورې په بل اچوي.
ـ د خرې دومره شيدې دي چې د خپل کوټي يې کيږي
ـ د خوشحالئ ياران ډير وي.
ـ د خيرات خوا کې ډئ کوي.
ـ د خارې مړز دی.
ـ د خپلو سره جنګ دښيښې درز دی.
ـ د خوارې کونډې زويه خپلې روټې ژويه.
ـ دا حوض ځوکاسې دی.
ـ د خوارئ ژرنده ساتي د کبره يې مزد نه اخلي.
ـ د خره په تندي کې محراب نه وي.
ـ د خره مينه لغته ده.
ـ د خير نه مې دې توبه سپې دې کورې که.
ـ د خوږې ګوتې نه نيول کوي.
ـ د خولې نه يې اور پورته کيږي .
ـ د خوږ لاس غوندې يې د زړه پورې نيولی دی.
ـ ډير پرې قدرمن او ګران دی.

ketabton.com - The Digital Library

ـ د جولا د ننګورتیز شو.
ـ دخرې څټه ورکه شه دښځې ګټه ورکه شه .
ـ خپل لونه لورمه پټوه.
ـ دخوار ملا په اذان څوك كلمه نه وائي.
ـدڅادر نه پښې مه اوباسه .
ـ دڅپلۍ ګردته یې هم نه شې رسیدی.
ـ دچراغ لاندې تیاره وي.
ـ دچرګې دنیولودی.
ـ دچرګ دمالګې دڅټلوسره څه دي .
ـ دچادسترګو نه خلی نه اوباسي .
ـ دچل یارې سرته نه رسیږي .
ـ ددوزخ خپسه پرې ناسته ده .
ـ ددله سپیه چې غاپې نه بوڅ خوکښینه.
ـ ددرواغو مزل لنډوي .
ـ ددرمند څخه یې ناپاکي زیاته ده .
ـ ددووه به کوروي ددریم ګړي به مخ توروي .
ـ دډیر وامساء دیوګیډی .
ـ ددادپورې یې پریږده.
ـ دډیر وخویندووروردی په دنګه ولویْې کونه وشلیده .
ـ دځوانۍ یوه نیشه وي هسې نه چې همیشه وي .
ـ دځنګل اوردی زیاتیږي اوکمیږي نه .
ـ داخوله که زماوای مابه پرې ؟. خواړه .
ـ ددوه پښوسړیدی.
ـ ددښمن په خوږومه تیر وځه.
ـ دزاخیلوسپۍترې جوړه شوه .
ـ دزمري زړه لري .
ـ دړندوپه بازارکه راغلې په یوه سترګه ته هم لاس کیږده.
ـ دشولوځری دی.
ـ دړندودلاس امساُده .
ـ دړندوسترګواوښکه ده.
ـ دزمري ورورردی .

ketabton.com - The Digital Library

ـ دزمري په خوله کې هم خیرغواړه .
ـ دزوروزمخي ته مه ځه او دآس شاته مه ځه
ـ دزوم خټه دخسردکاله وي .
ـ دزورآوراوبه په پیچومي خیږ ي .
ـ ددرواغوګوډی دی.
ـ دسپي دغپ پسې مه ځه.
ـ دیوسړي مارپه ګیډه تیرشوخفه واوویل یې چې دایې لارشوه.
دسترګواغزی دی .ـ
ـ ددوبي کورداخترپه ورځ معلومیږي .
ـ دزروقدرپه زرګروي .
ـ دسروپیزوانه ګړنګوزوړکړي .
ـ دسلوغویانوخاوندیولنډي ته ودریږي .
ـ دښمني دسرې اوردی نه مړکیږي .
ـ دشرم تیزدکونې په سروي.
ـ دشګونه پړي نه غښتل کیږي .
ـ دسپې مرګ په ګیدړاختردی.
ـ دسلوکالوموړپه سلوکالوکې نه خواریږي .
ـ درستم نوم درستم نه ښه دی .
ـ دښارنه زه راغلم دنرخ خبرې ته کوې .
ـ دسلوکالووږي په سلوکالوکې هم نه مړیږي .
ـ دسوال دژوندنه مرګ ښه دی .
ـ دسیندنه مړي چاګټلي.
ـ دسلوقصابانوونډۍ ده..
ـ دسلوبللوځای کیږي خودیونابللي نه . .
ـ دسیوري ونه خورمانه نیسي .
ـ دسختۍ نه څوك نه مري .
ـ دسروګلوبدمه وایه .
ـ دسوال په اوبوژرنده نه ګرځي .
ـ دسورنا چي یوپف دی.
ـ دسپي سترګې یې دي .
ـ دشکاټه غل دي نه خس دي نه سره .

ketabton.com - The Digital Library

- دشعرمعنې دشاعرپه خېټه کې ده .
- دشړۍ لنګ يې وهلی دی . .
- دسپيورمه نه وي .
- دسره غمي په شان دی.
- دشنه آسمان ږلۍ ده .
- دسرويښتان يې په کې سپين شول.
- دنغري په غاړه جنت غواړي .
- دللون کونه حساب نه ده .
- دشولويې پرېښودل او دپرووړويې راونيول .
- دسترخوان ته يې مه ګوره اوچولې ته يې ګوره .
- دشادکتلوپه ځاي مخکې ګوره .
- دشپې هرسړی ډاريږي څوك حال وايي اوڅوك يې نه وايي.
- درنګ ته مالګه مه وړه .
- دپسرلي باران دی .
- دقارون دنياده .
- دادپټي سردی پټی وروسته سورورد‌ی.
- دشيطان په خره سوردی .
- دسپي مرګ تري ښه دی .
- دچاغران دچابګيل مړزشو.
- دپيښې نه تيښته نشته.
- دپنځه جريبه ځمکې نه يو مريد ښه دی . .
- درنګريزخم دی.
- درب سر وهي عرب يې په سروهي.
- دحريص کاسه چپه وي خوله ئي سپيره وي.
- دتيکۍ سرشو.
- دژبې پر هرنه جوړيږي.
- دغوادپښو وتی دی.
- دغوړيو زور دقرتو نه او باسي.
- دغوړلستونې ياردی.
- د ښونه ښه پيداکيږي دبدونه بد.
- دتنګې بيزو نه وه دروپۍ ځنځير يې وتښتاوه.

ketabton.com - The Digital Library

ـ دبدونه هم لرې هم غلی.
ـ دسپي خوی يې دی.
ـ دسپي سرېي ترې جوړکړ.
ـ دسلوشاباسونه يوه روپۍ ښه ده.
ـ دغلې بلانه ويره په کارده
ـ دسپي په کودي کې يې ورکړه
ـ دډبګرۍ اجړادی .
ـ دغم ټغرېې غوړولې دی
ـ دبې اتفاقه خلکوجمع کول دچنډخانوتول دی
ـ دخپل خره تيزپيژنم
ـ دغره هوسۍ دغره تازيان نيسي.
ـ دغله لاس چې کورکې ولګيدبرکت يې والوت ،
ـ دشيعه په ليمڅي چې کښيناستې ورۍ ترې باسه.
ـ دغله په ږيره خس وي
ـ دغله مورپه غلاژاړي
ـ دغريب سړي دخيرات په ورځ غواورکه وي
ـ دشملې ګل دی
ـ دڅاڅکونه سيلاب جوړيږي
ـ دغنموله رويه ځوز هم اوبه کيږي
ـ دچړمړی دی
ـ دټانټوکټ دی
ـ دفيل غوږ کې ويده دي
ـ دقربانۍ ګډوری دی .
ـ دخوړهره تيږه من نده.
ـ دصبر ميوه خوږه ده.
ـ زغم ښه شی دی خدای(ج) پرې انسان ته اجرورکوي.
ـ دطالبانو غويشو.
ـ دکانګړې په ټس کې لاړې بټګرامه.
ـ دقربان نه دې معلوميږي چې چرسي يې.
ـ دکوربه په پسه زړه کيده دميلمه په هډوکي نه کيده.
ـ دکبر کاسه نسکوره ده..

ketabton.com - The Digital Library

ـ دکور ګټه دډهلي ګټه ده.
ـ دکور په کار دکور میرمن ښه پوهیږي..
ـ دکر واړې چج دی اواز یې شته دانې یې نشته

ـ دتورې پرهار به جوړ شي د ژبې پرهار نه جوړیږي .
ـ دوست به دې وژړوي دښمن به دې وخندوي
ـ د سوال په اوبو ژرنده نه چلیږي .
ـ د هرې ونې مه خوره د یوې به دې ګنډېر شي .
ـ د کبر کاسه نسکوره ده.
ـ د خوار به په حلوا کې غاښ وتلی وي .
ـ د لندو ختو لږې اوبه دارو وي .
ـ د کور کلي سپی ، د بهر سړی.
ـ د پردي کلي ناوې ښایسته وي .
ـ د خرهٔ لغته ،ملنډه وي .
ـ دروغ د ایمان زیان دي .
ـ د زمري غار بې هډوکو نه وي .
ـ د عقل وږی نسته د دنیا موړ .
ـ د نوي منګي اوبه خوږې وي.
ـ دوه غوایي چې ښکر په ښکر شي زیان یې د بوټو کاڼو وي .
ـ دوه غوایي چې ښکر په ښکر شي ،زور یې د وښو پرخوا وي.
ـ دریاب په‌لوټه نه خړیږي .
ـ دښمن هغه دی چې اول یې ( هو!) او بیا یي (یه) وي .
ـ د درواغو مزل لنډ وي.
ـ د غنمو لپاره په زوزو هم اوبه لګیږي .
ـ د صبر میوه خوږه وي .
ـ د ډوډۍ پر قدر وږي پوهیږي .
ـ دوست هغه دی چې په سخته کې دې په ښه راشي .
ـ د لاس ګوتې په یوه اندازه نه دي .
ـ د شپې پای سپېدې راختل دي.
ـ د کور جارو ، دبل دارو .
ـ د خرهٔ مړینه د سپي اختر وي .

ketabton.com - The Digital Library

ـ دوستي په لیرې والي کې ښه وي.
ـ دګور شپه په کور نه کیږي .
ـ د نالیده چې لور وشوه په ښکلولو یې مړه کړه
ـ د نر زوی ژړا په ځانګو کې مالومه وي .
ـ د اوښانو خاوندان دروازې لوړې ساتي .
ـ د زړهٔ زړهٔ ته لار وي.
ـ د ډالهٔ ږغ لیرې ښهٔ ځي .
ـ د غلهٔ په غرهٔ کې هم ځای نهٔ وي .
ـ د مور په نس کې چا نهٔ دي زده کړي.
ـ د بل پر ایمان سړی جنت ته نهٔ ځي .
ـ دنیا په امېد خوړه کیږي .
ـ د بې عقله علاج نسته
ـ د پلالې اور تر درمندهٔ ځي
ـ د سیال خوارهٔ پور دي یا پېغور .
ـ د بې غیرته به دکور مېلمه واکمن وي.
ـ د ښځې سل کمڅۍ دي ، سل سره بدۍ دي .
ـ د سپو کور پر کور بدي وي خوار غریب ته یو وي.
ـ دنن کار سبا ته مه پرېږده .
ـ د بل په لاس مار هم مه وژنه .
ـ د آرمان واتهٔ د آسمان خاتهٔ دي
ـ دزورور اوبهٔ پر پېچومي خېژي .
ـ د زورور مې ښځ هم خوښ دی ، د کمزوري مخ هم نه!
ـ د لاس تناکې مرغلرې دي .
ـ د غزني زیارتونه تر خپلو پردو ته ښهٔ رسیږي.

ډ:
ـ ډبره تسي ځای ته ښه ځي
. ـ ډبره چې چېرې پرته وي هورې درنه وي
. ډېر سفر وکړه چې خاموالی دې پوخ شي ـ
ړ :
! سترګې ـ ړوند له خدایه څهٔ غواړي ، دوه

ketabton.com - The Digital Library

ـ ړنده سترګه څۀ وينه څۀ ويده !؟
ر:
. ملاست اوسه ـ راست اوسه پۀ لويه لار کې
! ـ رڼا سترګې پټوي
ژ:
پېزوان غواړې !؟ ـ زۀ درنه پزه پرې کوم ، تۀ رانه
. ـ زۀ دې کښت نه کړم تۀ پټي راګڼې
. تۀ راته مريدان نيسې ـ زۀ دې پيرۍ نه منم ،
ـ زړه ښځه پۀ تګ مالومه وي
س:
. وي ـ سپين ويل ترخۀ
. ـ سور سپی هم د لېوۀ ورور دی
. ـ سړی دې سړي تالی ته نه تندي ته ګوري
. ـ سترګې له سترګو شرمېږي
ښ :
. ـ ښځه د کور ډېوه ده
دې سلطان کړي بد خوی به دې پۀ ځان پورې حيران کړي ـ ښۀ خوی به
. ـ ښځې چا مرکو ته نۀ دي بيولې
. ـ ښه ورځ پۀ منډه نه پۀ ټنډه ده
ـ ښځه د ځان پۀ خوښه که د جهان ؟
صحبت بې تاثيره نۀ وي ـ
غ :
. ـ غوښتل توانېدل دي
. سپيڼې ـ غوا توره شيدې يې
ـ غر پر غرۀ نه ورځي انسان پر انسان ورځي
ـ . ـ غرضي پر ختټه اور لګوي
. غوټه چې پۀ لاس خلاصېږي خلې ته يې څۀ حاجت دی
خله ورکړه ، نو يې ساتې له چا ؟ ـ غوښه چې دې د پيشو پۀ
. لار ښوولهـ غم به يې د بډبېرې زبېر کوي چې مېلمنو ته يې
ک :
به زۀ يم ،اوکه تا  ـ که تا ويل چې زۀ يم او ما ويل چې زۀ يم ، نه به تۀ يې نه

! ويل چې تهٔ يې او ما ويل چې تهٔ يې ،هم به زهٔ يم هم به تهٔ يې
. ـ که روپۍ وړه ده خو پهٔ تول پوره ده
. ښهٔ لري ـ کلی پر نامهٔ لري يو خوی تر نورور
. ـ کلی پهٔ لېوني پورې خاندي لېونی پهٔ کلي پورې
. خالي هم نه يم ـ که ولي نه يم
. ـ کله کله د سړي پهٔ بې خيرۍ کې هم خير وي
. کدانه خو به سي ـ که برج نه سو
. ـ کوم کار چې پهٔ صلاح وي ورکه يې بلا وي
. کوترې سره او باز له بازه سره ـ کوتره له
! ـ که نن پر ما سبا پر تا
. رسوا نه شي ، له ټولنې سره همرنګه شه ـ که غواړې چې
. ـ که غل نه تښتي ، مل دې وتښتي
. که ګور ګران دی ، خو د مړي ناکام دی ـ
. ـ کارغهٔ د زرکې تګ کاوهٔ خپل يې هېر شو
. ـ کږه خلهٔ پهٔ سوک سمېږي
. ـ که غر لوړ دی پر سر لار لري
. تيارهٔ ده خو منې پهٔ شمار دي ـ که شپه
. ـ کله ،کله له ړاندهٔ هم لکړه لوېږي
. نه کوې لکۍ خو ببره نيسه ـ که جنګ
. ـ کوږ بار تر منزله نه رسېږي
! ،خپله سياله وکړه ـ ګُلاله وکړه
: ګ
. ـ ګُل بې خاره نهٔ وي
. ـ ګيله له خپله کېږي
: ل
! ـ له غرونو لوېدلي به پورته شي ،خو له زړونو لوېدلي به پورته نهٔ شي
. ـ له کلي ووځه خو له نرخه مه وځه
. ـ له قامه سره خوره ، له قامه سره مره
. ـ لمر پهٔ دوو ګوتو نه پټېږي
سوه ـ له بارانه تښتېدم ،تر ناوې لاندې مې شپه
. ـ لوی مې کړې لويي مه راکوې

ketabton.com - The Digital Library

. ـ له مړو آواز نه راپورته کېږي
. پخلا شوي دښمنه ځان ساته ـ له
. ـ لال په ايرو کې نه پټېږي
. د سوال دارو مه خوره ـ له لوږې مړ شه خو
! ـ له آزاره چا بازار نه دی موندلی
. ټک نه خېژي ـ له يوه لاسه
. ـ له وچو سره لانده هم سوځي
: م
! مېړانه يي مه وژنه ـ مېړه مړ کړه ، خو
. ـ مېړونه غرونه دي ،ښځې يي اړمونه دي
. سره ګرځي چې بڼې يي سره لګېږي ـ مرغان هم هغه
. ـ مرغۍ په خپلو بڼو ښه ښکارېږي
. ړنده ده ـ مينه
. ـ مېلمه د خدای دوست وي
. معامله ګډه وډه شي ـ مړی چې خدای شرموي ، پر تخته يي
. ـ مار خوړلی له تور پړي هم وېرېږي
. کې ځای مه ورکوه ـ مار ته په لستوڼي
! ـ مه وکړې هغه منډه چې مې کونه شي بربنډه
: ن
. ناوې ته هرڅوک ببوزی وهي ـ نوې
. ـ نړۍ ليدونکي ډېر درواغ وايي
: و
. ورېنداره په لېورو ساتلې وي ـ
. ـ وينه په وينه نه مينځل کېږي
. آزارېږي ، بېزارېږي نه ـ وينه
. ـ وروستۍ ورځ نامرده وي
په څه ؟ ـ وړه دې په وړه منت دې
. ـ وزه په خپلو ښکرو نه درنېږي
خو په هډېره کې ورسره يو ځای د  ـ ورور که د ورور له کوره خپه وځي ،
. پلار پر قبر شناختې دروي
: ه

ketabton.com - The Digital Library

. مه نيسه ـ همسايه غل
. ـ هرګرد شی غوز نۀ وي
. ـ هر کاره سړی هيڅ کاره دی
. هم نه وايي چې زما د غړکې خوند بد دی ـ هيڅوک
جومات لپاره ناروا دی ـ هغه څراغ چې دکور لپاره روا دی ، د.
: ی
! ـ يو بام دوه هواوې
! خبرو کې ، د هرچاحق وي ـ يو پۀ خدای ، او بل پۀ

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*